# حاجي میرویس خان نیکه

په ۱۱۱۹ هجري قمري کښي د افغانستان ځني ځایونه د ایران د صفوي دولت په لاس کي وه. ددې دولت مشر په کندهار کښي د ګورګین په نامه یادېدئ.

ګورګین پر افغانانو ډېر ظلمونه کول. د ده د ډېر ظلمه څخه پښتانه ډېر په تنګ سوي وه. نو پدغه وخت کي د پښتنو مشران سره راټول سوه او یو لوی مجلس یې جوړ کړ. هغه وو چي په ټولو یې حاجي میرویس خان د قوم په مشري و ټاکه.



حاجي میرویس خان د پښتنو سره لاس یو کړ، په اول کي یې ګورګین ته نصیحت وکړ خو هغه ونه مانه. ځکه یې د هغه سره جنګ پیل کړ. پدغه جنګ کي ګورګین ووژل سو او پښتانه د پردیو د لاسه خلاص سول.

کله چي پښتنو د دښمن د لاسه خپله ازادي واخیسته نو یې د میرویس خان څخه غوښتنه وکړه چي د پاچاهۍ چاري پر غاړه واخلي. حاجي میروس خان و نه منله. خو په اخر کي یې د قوم مشري قبوله کړه.

حاجي میرویس خان په ختیه ( قوم ) هوتک او د ښالم خان زوی وو چي په ۱۱۲۷ هجري کال کي وفات سو، قبر يې د کندهار د ښار په کوکران کي پروت دئ.